# په یوه اوونۍ کې د انټرنټ زده کړه

د الله محمد هڅاند په زیار

# فهـــــــــــــــــــرست


1: انترنت
2: د نوی ID جوړول په Yahoo کي.
3: د تر لاسه شوي بریښنالیکونو لوستل په Yahoo کی.
4: د نوي فولدر جوړول د yahoo یا دخپلی ID په پاڼه کی.
5: د بریښنالیک( email) لیږل د yahoo له لاری.
6: څنګه کولاي شو له کمپیوټر څخه عکسونه او بعضي نور فایلونه چاته ولیږو(Attach file)؟
7: spell check څه کار کوي.
8: د بریښنالیک د بڼي ، سایز او رنګ غوراوي.
9: Yahoo Signature
10: که چیری Yahoo, MSN, AIM مسینجر در سره نه وي.
11: څنګه کولاي شو په yahoo کي د هغو بریښنالیکونو مخنیوي وکړو چي نه یي غواړو **تر** لاسه یي کړو؟
12: څنګه کولاي شو د خپلي yahoo پاڼي ته رنګ اویا یي بڼي ته تغیر ورکړو؟
13: دyahoo په پاڼه کي Notepad څه کار کوي؟
14: د Google logo په خپل نوم واړوي.
15: د پښتو او افارسي بریښنالیکونو د نه لوستل کیدلو د ستونزي د حل لاره.
16: څنګه ګولاي شو په خپل مسینجر (Messenger) کي د چا ادرس یا ID علاوه کړو؟
17: څنګه کولاي شو چي له چانه په انتر نت کي ځان پټ کړو تر څو مو مزاحم نه شي؟
18: څنګه کولاي شو د تفریح لپاره له بل چا سره په کوم بل ملک کي تماس ونیسو اوخبري وکړو؟
19: څنګه کولاي شو د خپل مسینجر بڼي او د لیک سایز ( font ) ته تغیر ورکړو؟
20: د مسینجر لپاره د عکس غوراوي.
21: د webcam لیدل.
22: Message Archive څه کار کړي؟


Internet

# انــــــــــترنت

- د انټرنيټ د منځ ته راتللو لومړنی نښي نښاني په 1957م کال کي لټولی شو. دا هغه وخت و چي پخوانی شوروي اتحاد خپله فضايي بيړۍ د سپوتنيک (Sputnik) په نامه کيهان ته وليږدوله . په همدې وختونو کي د امريکا متحده ايالات هم په دې فکر کي شوه چي څنګه به و کولۍ شي خپلې فضا يي پروژې تر ژورې او دقيقې څارنې لاندې راولي.
- په ۱۹٦٢ء کال کي د امريکا هوايي ځواک ، يو تن د Rand Paul Baran په نامه دې ته وګوماره ، که چيرته د امريکا په ځنيو ښارونو اتومي بريد وشي نو دوي به څنګه د خپلو اتومي توغندويو پروګرام په خپل لاس کي ولرلی شي ، تر څو له هره ځايه يي په واک او اســــــتعمال کـــــې راوســــــــتی شــــــــي.

Rand Paul Baran.له اوږد کار او هلو ځلو وروسته ، هوايي ځواک ته د يو داسي نيټ ورک جوړولو مشوره ورکړه چي په هغه کي ډېر کمپيوټرونه يو دبل سره تړلي وي او مهم معلومات له يو کمپيوټر څخه بل ته په اسانۍ انتقال شي . له همدې امله يي په لومړي سرکي د ( Advanced Research Project Agency) ARPA ايجنسی په جوړولو پيل وکړ

- په ۱۹٦۹ء کال کي ARPA داسي يو نيټ ورک سيسټم جوړ کړ چي يوازې څلور کمپيوټرونه په کي له يو بل سره تړلي وو او دهمدې ايجنسۍ سره د تړاو له امله يي د ARPANETپه نامه ونوموله.
- په ۱۹۷۲ء کال کي د BBN په نوم يوې ادارې چي د ARPANET ټيکه ورسره وه، يو تن کارکوونکي Ray Tomlinso لومړنی E_mail پروګرام جوړکړ ، د وخت په تيريدود ARPA نوم په Defense Advanced Research DRAPA (Projects Agency )بدل کړای شو.
- په ۱۹۷۳ء کال کي د DARPA .يوې کارکوونکې ډلې چي مشر يي Vinton Cerf ود TCP/IPپروتوکول له لارې په دې بريالی شو چي د کمپيوټرونو بېلابېل نيټ ورک سيستمونه په خپلو کي سره وتړي.
- په ۱۹۷٤کال کي د همدغې ډلې لخوا دې نيټ ورک سيسټم ته د Internet توری استعمال شـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــو.

**د انټرنيـټ کليمــه لــه دوو کلمــو inter او net جـوړه شـوې ده :**

(International) Inter او (networking) net ده ، چي په پښتو کي ورتـه نړيوالـه جال هم ويلی شو . په ساده توګه انټرنيټ داسي تعريفولی شو : انټرنيټ د کمپيوټر د نيټ ورړ کونو (Networks ) يو نيټ وړک دی، کوم چي د معلوماتو (Data) د استونی (Transfer)له پاره سره ورتـه ژبـه ( يا پروتو کول ) کاروي. هغه نيټ وړ کو نـه چي انټرنيټ جوړوي پـه ولايتونو، هيوادونو او نړۍ کي خواره واره دي او هر کمپيوټر چي د دې نيټ وړکونو څخه يوه سره هم تړلی وي، د انټرنيټ برخـه ده .نن ورځ پـه ټولـه نړۍ کي پـه ميلونونو کمپيوټرونـه يو د بل سره تړل شوي دي چي د دغو ميلونونو کمپيوټر ونو ترشا، پـه ميلونونو انسان ناست دي چي نړۍ د يو کنج څخه بل کنج ته د معلوماتو او

خبرتیاوو په لیږ دو لو اواخیستلو مشغول دي. د کمپیوټرونو د نیټ ورک سیستم ، په لږه موده کې دومره کامیابي تر لاسه کړه چې دامریکا د متحده ایالاتو د نظامي ضرورتونوځخه راووت او د ګردې نړۍ د خلکو په واک کې ورکړل شو .


- په (۱۹۷٦ م کال ) کې لومړنی بریښنا لیک (E-mail) د انګلستان د ملکې له خواد امریکا متحده ایالاتو ته مخابره شو.
- په (۱۹۸۲م کال ) کې د ارپانټ د کمپیوټر نو شمیر ۲۳٥ د ستګاو ته رسیده په (۱۹۸٤ م کال ) کې یې شمیر ۱۰۰۰ د ستګاوته اوپه (۱۹۸۹ م کال کې) دا شمیر شل زره ته لوړ شو.
- د انټرنیټ هرپاڼه د Web په نامه یادیږي . هرڅوک، دفتر،هرهیواد،هره Ngo او هر سوداګریزمرکزکه وغواړي، چې خپله پاڼه ولري نو لومړی باید خپلې موسسې ته نوم ورکړي او بیا ځان راجستر کړي.
- په نړیواله سطحه نږدې یو بیلیون د انټرنیټ پتې او پاڼې شته، چې په ۱۹۹٦ کال کې دغه شمیره نږدې ٦۲۷۰۰۰ته رسیده او په ۲۰۰۰ کال نږدې ۱۸ میلیونه ویب سایټونه راجستر شول
- په ( ۱۹۹۲م کال ) کې د انټرنیټ سره د تړل شوو کمپیوټرونو شمیر یو میلیون ته ورسید ه.
- همدارنګه ۱۹۹۳ م کال کې د لومړي ځل له پاره راډیویي سرویس په انټرنیټ کې پیل شو. په دې وخت کې د انټر نیټ د تړل شویو کمپیوټرونو شمیر دوه میلیونو ته رسیده.
- په (۱۹۹٤) کال کې د انټرنیټ د کارولو مینه وال نږدې درې میلیونه وګړي وو، چې زیاتره په کې امریکایان وو، خو په (۲۰۰۰ (کال کې په ټوله نړۍ کې د دې پروګرام کاروونکي نږدې درې سوه میلیونو وګړیو ته ورسیدل.
- په ۱۹۹٤ م کال کې د انټرنیټ د زیږیدو ۲٥کالیزه ولمانځل شوه اورسره جوخت دا اعلان وشو چې انټرنیټ اوس لس ترلیونه بایټه اطلاعات لري او د نړۍ هر څوک کولی شي خپل کمپیوټرونه په انټرنیټ پورې وتړي.
- په ۱۹۹٥ م کال کې واتیکان هم د انټرنیټ سره خپلې اړیکې ټینګې کړې، په دې وخت کې په ټوله نړۍ کې د کامپیوټرونو شمیر ه پنځه میلیونو دستګاوو ته رسیده په ۱۹۹٦ م کال د جنوري په ۱۷ نیټه د مالیزیا صدر اعظم، دفلسطین مشر یا سرعرفات او د فلیپین صدر اعظم، دریواړو د لومړي ځل له پاره د انټرنیټ په نیټ میټنګ (Net meeting)پروګرام کې لس دقیقې یو له بل سره مخامخ ژوندۍ مرکه او خبرې اترې وکړې .انټرنیټ د هرې ورځې په تیریدو سره چټکه وده کوي .د ځینو رسمي ارقامو له مخې په انټر نیټ کې د موجودو ویب پاڼو شمیر په هر ٥۲ ورځو کې دوه چنده زیاتیږي او په

انټر نیټ باندې د کار کوونکو شمیر په هر کال کې دوه چنده د تیرو کالونو په پر تله زیاتوالی مـــــــــــــومي .
که څه هم انټرنېټ لومړي ځل په امریکا کې د ځانګړي نظامي ضرورت لـه مخـې ایجاد شو خو وروسته یې د یو نړیوال جال بڼه خپله کړه او ګرده نړۍ یې د ځان سره په دې جال کې راونغښتله . په دې توګه انټرنېټ نه یواځې د انسانانو تر منځ د معلوماتو تبادلـه او اړیکې اسانه کړل بلکې د نړۍ خواره واره ټټابونه یې هم رالنډ کړل او دنیا یې په یوه نړیوال کلـي (Global Village)واړولـــــه .
نن ورځ د دې برېښنائي شبکې له لارې خلک ، د ژوند په هر اړخ او مېدان کې ګټه اخلي . سـودا ګریزکاروبارونـه ترسـره کـوي ، تلویزیـون ګـوري ،راډیـو اوري, ورځپانـه، مجلـې او کتابونـه لـولي ، عکسونه یو بل تـه استوي ، مخـامخ پـه غږ کـې یـو لـه بل سـره خبرې اتـرې او یـا هـم لیکل کـوي . د انټر نیټ پـه وسیله د بـشري خدمتونو د عنوانونـو شـمیر ډیر زیـات دی، چـې نـه شـو کـولی د هغو ټولـو یادونـه وکړو، خـو پـه عمـوی ډول بـه دومـره ووایو چې انټرنیټ نن سبا په ټولیزه توګه د دغو عنوانونو لانـدې مـوږ تـه اسـانتیاوې برابـرې کړې دي .


- ښوونه او روزنهEducation
- خبرونه news
- اړیکي Communicate
- اقتصاد Finance
- ساعتیري یا لوبې Fun and games
- تاریخ History
- پیرل ( اخیستل )shipping
- علوم scince
- منابع Reference
- د نړۍ ګرچاپیره Around the world
- ورزش Sport
- هنر Art ا............وداسې نور

# د نوي ID جوړول په Yahoo کي

د يوي نوي ID لپاره لمړي د Yahoo.com سايت ته داخل شي چي ددي سايت اصلي پانه په دي دول ده .




اوس په Sign up كليک كړي او لاندي فورمه به تاسو ته را ښكاره شي دا فورمه په غور سره ډكه كړي .




My name: خپل نوم ولیکي.

Last Name: خپل تخلص ولیکي.

Gender: خپل جنسیت و ټاکي (Male د مذکر لپاره او **Female** د اناث لپاره)


Birthday: د زیږیدلو نیټه.

I live in: د اوسیدلو ځاي ولیکي.

Yahoo! ID: د خان لپاره د ایمل ادرس وټاکي (په دي ځاي کي فقط له a تر z او له 0 څخه تر 9 او د 1 عدد د کارولو وړدي. د نموني په توګه تاسو نشي کولاي دلته له: !@ # $ % ^ & * او داسي نورو کریکترونو څخه کار واخلي.

**Password:** په دي برخه کي خپل ايمل ادرس يا ID ته يو رمز وټاکي دا رمز بايد له 6 کريکتروڅخه کم نه وي.

**Re-type password:** پورتني رمز په دي برخه کي هم وليکي.





ممکن تاسو د خپل ايمل ادرس او يا ID رمز هير کړي . ددي لپاره تاسو يو سوال او يو جواب غوره کړي تر څو د رمز د هيريدلو په وخت کي له هغه څخه استفاده وکړي دا برخه 5 ټاکني يا انتخابه لري.

**Security question:** په دي برخه کي له 5 انتخابونو څخه يو غوره کړي. مثلا د يوه کورني ژوي نوم او يا داسي نور.


**You're Answer:** د پورتني سوال ځواب مو په دي برخه کي وليکي مثلا د کورني ژوي نوم پشي او چرګه (cat and hen) اويا وليکي (Nashta) او يا هر هغه شي چي نه مو هيريږي. دا جواب بايد له 4 ځلورو کريکترو څخه زيات وي.

**Zip/Postal code:** د خپل ملک (Country) کود (code) وليکي يعني يا 25000 او يا 47000 وليکي.

**Alternate Email:** ددي برخي ډکول ضروري نه دي.




!Error




اوس په تور عکس کي چي کوم توري يا حروف ښکاري هغه په هغه تش ځاي کي وليکي يعني هغه توري لهZVNMW څخه عبارت دي. دا توري د هر چا لپاره چي ادرس جوړوي فرق کوي.

!Error




**دا ستا سو او !Yahoo تر منځ قرار داد دي. په دي قرار دا کي به تاسو قبول کړي چي له مجرمانه او غير اخلاقي عمالو به د ID يا ايمل ادرس په استعمالولو کي پرهيز کوي. وروسته ددي فورمي له تکميلولو څخه په I Agree (create my account) کليک کړي تر څو ستاسو مشخصات ثبت کړي.په دي ډول به ستاسو ايمل ادرس يا ID جوړه شي او تاسو به د yahoo کډون کوونکي شي.**


څنګه خپل راغلي ليکونه تر لاسه کړو او وي ګورو؟

لاندي کړنلاري تر سره کړي.


لمړي د انټرنټ صفحه خلاصه کړي او په ادرس(address) کی yahoo.com وليکي او بيا په مخامخ صفحي کي خپل ايمل درس او پسورډ وليکي او بيا په sign in کليک کړي.







كه غواړي چاته ايمل يا ليک وليږي په compose كليک كړي
ددي لپاره چي خپل تر لاسه شوي يا راليږل شوي ليكونه مو ولوستلاي شي په check mail كليک كړي
YAHOO! MAIL Classic
Mail
Contacts
Calendar
Notepad
Check Mail
Compose
Yahoo! Tech
Tech made easy
Welcome, Allah mohammad!
You have 0 unread messages:
Messenger: You have 0 unheard voice mail
Learn about voice mail.
Folders [Add - Edit]
Inbox
Draft
Sent
Bulk [Empty]
Trash [Empty]
My Folders [Hide]
Message from Me...
my document
Search Shortcuts
In the News: Yahoo! News: Top Storie
ا ددي ښكارندوي دي چي تاسو په خپل ايمل ادرس کوم ايمل يا ليک نه دی تر لاسه كړي . كله چي تا سو يو يا دوه يا څو ايملونه تر لاسه كړي وي دلته هماغه عدد ليكلى وي مثلا كه چيرته دلته د 3 عدد ليكلي وه دا په دي معني چي تاسو دري بريښنا ليكونه يا ايملونه لري چي نه مو دي لوستلي.
د Add-edit په كليک كولو سره تا سو كولاي شي په خپلي صفحي كي يو folder جوړ كړي.
په دي برخه كي (sent) د هغو ليكونو يوه يوه كاپي له تاسو سره پاته كيږي چي تاسو مخكي چاته ليږلي دي


Mail
Contacts
Calendar
Notepad
Check Mail
Compose
دلته كليک كړي تر څو خپل ايمل ولوستلاي
Yahoo! Tech
Tech made easy
Inbox
View: All Messages
Delete
Spam
Mark
Move...
Folders [Add - Edit]
Inbox
Draft
Sent
Bulk [Empty]
Trash [Empty]
My Folders [Hide]
Message from Me...
my document
Sender
Subject
Usafis
allah mohammad himma
USAFIS Green Card Program
allah, Apply now - only
Hassan Kazimy
IAM in Dai Kundi
كه غواړي چاته ايمل وليږي په compose كليک كړي




دلته د هغه چا ادرس ولیکي کوم چې تاسو غواړي
لیک یا ایمل ورته ولیږی د نمونې په توګه
Mohd_hamat@yahoo.com
په دې برخه کې خپل لیک ته یو سر
لیک و ټاکي د نمونې په توګه salaam
Send
Save as a Draft
Cancel
From:
mohd_hamat@yahoo.com
[ Add Mail Account ]
Insert addresses | Add CC - Add BCC
To:
Subject:
Attach Files
Stationery
وروسته د لیک له لیکلو په send
باندې کلیک کړی تر څو مو ایمل هغه
شخص ته ورشی.
دلته خپل لیک ولیکي
که غواړي همزمان دوه نفرو ته ایمل ولیږي په Add cc- Add Bcc کلیک کړي او
په خالي خایو کې د هغوی ادرسونه ولیکي.

ځنګه کولاي شو له کمپيوټر ځخه عکسونه او بعضي نور فايلونه چاته ولېږو؟


ددي کار لپاره لاندي کړنلاري عملي کړي.






هغه فايل چي تاسو غواړي چاته يي ولیږي كه په دي برخه كي نه
وي له look in څخه هغه ځاي چي تاسو مخكي په كمپيوتر كي
يه هغه ځاى كى فايل ساتلى وى غوره كړى.
Choose file
Look in: Desktop
My Recent Documents
Desktop
My Documents
My Computer
My Network Places
My Documents
My Computer
My Network Places
Plustek USB Scanner
Acrobat Reader 5.0
AvRack
Nero StartSmart
Picasa2
RealOne Player
Windows Live Messenger
Yahoo! Mail
Yahoo! Messenger
Snow Pictures
unattend
computer
computer learning
computer learning3
english
Shortcut to English to Pashto Dictionary
Type: Microsoft Word Document
Author: My private Account
Title:
Date Modified: 1/31/2008 6:46 PM
Size: 2.94 MB
له دي برخي څخه هر هغه شي چي
تاسو غواړي چاته يي ولیږي غوره
کړی
File name: english
Files of type: All Files (*.*)
Open
Cancel
open کلیک کړی





اوس په Attach files کلیک کړي.
Attach Files
Cancel
Attach Files
Click "Browse" to select a
دا په دي معني ده چي تاسو يو فايل غوره كړي دي كه مو
فكر شوی وی مخكی له غوراوي څخه دا ځاي تش وه.
File 1: C:\Documents and Setting
File 2:
File 3:
File 4:
File 5:
Browse...
Attach More Files

اوس په دي برخه کي لږ صبر وکړي تر څو فايل مو Attach شي که مو فايل کم يا لږ وي دا جريان ژر خلاصيږي او که فايلونه زيات وي دا جريان به يو څه وخت نيسي.




اوس په Continue to message کليک کړي




دا د هغه فايل نوم دي چي Attach شوی دی.

په اخير کي په send کليک کړي ستاسو فايل به وليږل شي.

## Yahoo Signature


ګرانو هیوادوالو لیدلي بهمووي چې کله له خپلو دوستانو، دکورنۍ له غړیو او یا نورو اړوندو کسانو څخه بریښنالیک تر ګوتو کوی نو ددغه بریښنا لیک په پای کې دهغه وګړی په اړه معلوما ت په مختلفو بنو سره لیکل شوي وي او دا له هر بریښنا لیک سره هر دبریښنا لیک ترګوتوکوونکي ته ورځي د نموني په توګه دالاندي:

Mohd_hamat@yahoo.com
mohdhimmat@gmail.com
amh_himmat@hotmail.com
0707708275

اوس داچې څنګه کولای شودخپل یاهو ګنون(اکاونټ) لپاره دغه راز Signature جوړ کړو تر څو هرڅوک چې زمونږ بریښنا لیک تر لاسه کوي داراز معلومات هم تر لاسه کړي ددي کار دکولولپاره لاندي چارې په پام کې ونیسی:

۱- د Internet Explorer له لارې خپل د یا هو ګنون ته ورننوزی.


۲- اوس نو چې خپل ګنون تهننوتی په دغه کړکی کې دکړکی ښي اړخ ته په پورتنی برخه کې د Options ویوکی پیدا او کلیک پر وکړی لکه په دالاندي کړکی کې:





۳ - اوس به یوه بله کړکی درته واژه شي اوپه نوموړي کړکی کې به د Signature ویوکی پیدا کړی او کلیک بهپر وکړی نو لاندي کړکی به درته واژه شي په نوموړي کړکی کې لکه څنګه چې وینی خپل پهزړه توري ولیکی او رنګ او هرڅه يي وراړوی.



۴- اوسنو له خپل لاسلیک لیکلو وروسته داغوراوی add Signature To All Outgoing Messages غوره کړی او ځان ډاډمن کړی چې تر اړخه یې د√نښه شتون لري لکه په پورتنی ځیره کې.




۵-اوس نود همدغې کړکې پهلاندینی برخه کې د Save په تنی کلیک وکړی. اوس به ستا سو له هر پیغامسره ستا سو لاسلیک هم مل وي.





## که چیری Yahoo, MSN, AIM مسینجر در سره نه وي


که چیری ستاسو کمپیوټر کې Yahoo, MSN, AIM مسینجرونه نه وي نو تاسو کولي شي چې د لاندي ویب پاڼه څخه په خپل بریښنالیک ننوځئ او خپلو دوستانو سره انلائن خبرې اترې وکړي http://www.ebuddy.com/index2.php .


## ښکه کولاي شو په yahoo کي د هغو بريښناليکونو مخنيوي وکړو چي نه يي غواړو تر لاسه يي کړو؟

ددي کار لپاره خپله د yahoo پاڼه خلاصه کړي او د پاڼي په ښي طرف کي په option باندي کليک کړي.




په را خلاصه شوي پاڼه کي په Block Addresses کليک کړي .








په دي ځاي کي هغه ادرس يا بريښناليک وليکي کوم چي تاسو نه غواړي له هغه ښخه کوم پيغام او يا ليک تر لاسه کړي او وروسته په Add Block کليک کړي ترڅو Block شي.


دا هغه ايمل ادرسونه دي چي له دوي ښخه تاسو کوم پيغام نه شي تر لاسه کولاي يعني مخنيوي يي شوي.

## څنګه کولاي شو د  خپلي yahoo پاني ته رنګ اویا یي بني ته تغیر ورکړو؟

ددي کار لپاره خپله د یاهو پانه خلاصه کړي او په options  کلیک کړي وروسته په خلاصه شوي ویندو کي کین لوري ته په colors کلیک کړي.





**له دي ځایه د یو رنګ غوره کړي او وروسته په save کلیک کړي ترڅو ستاسو د yahoo  بڼه  تغیر شی.**




## د yahoo په پانه کي  Notepad څه کار کوي؟

**که غواړي د خپل ایمل ادرس په پانه کي څه لیکل وکړاي شي ددي کار لپاره له Notepad څخه کار واخلي د خپلي یا هو پاني له خلاصولو څخه وروسته په notepad کلیک کړي.**






دلته خپل یاداشت یا هرغه څه چي تاسو غواړي یاداشت
ولري مثلا بعضي مهم ادرسونه او یا دتلیفون شمیري او داسي
نوري ولیکي او وروسته په save کلیک کړي په دي ډول به
ستاسو یاداشت وساتل شي هر وخت چي تاسو غواړي تر لاسه
یي کړي له همدي لاري یي تر لاسه کولای شي.

## د Google Logo په خپل نوم واړوی

لیدلي به مووي چي کله هم د Google انترنیت پانه راوازه کړی نو په سر کي په غټو تکولیکلی وي
اوس ځنګه کولای شو ادا Google په خپل نوم واړوو:
۱- خپل Internet Explorer واز کړی




:2 په Address Bar کې يې goglogo.com وليکی له دې وروسته د په ليک درې کې د Enter تنۍ کليک کړي نو دالاندې پانه به درته راواره شي:
۳-: د Enter your name مخې ته په ژير رنګه ځای کې خپل دخوښې نوم وليکی دنمونې په توګه زه دلته Allah Mohammad hemmat ليکم. اوله دې وروسته په Create My Search Pageکليک وکړی نو لاندې پانه به درته راواره شي:





**د پښتو او افارسي بريښناليکونو د نه لوستل کيدلو د ستونزې د حل لاره:**

**بعضې اوقات داسې هم پيښيږي چې کوم پښتو او يا فارسي بريښناليک مو تر لاسه کړي وي اما د هغې بنې تغير خوړلې وي او د لوستلو وړ نه وي . ددې لپاره چې بريښناليک د لوستلو وړ شي او خپلې اصلې بنې ته واړوی ددې کار لپاره په هماغه بريښناليک بنې کليک وکړی او په خلاص شوې لست کې په Encoding کليک کړې لاندې تصوير ته وګورې.**



**د Unicode له کلیک کولو وروسته به ستاسي بریښنالیک هماغه اصلي بڼه غوره کړي او د لوستلو وړ به شي.**
**لاندي تصویر ته وګوري چي پورتني کړنلاره تر سره شوي ده او بریښنالیک د لوستلو وړ ده.**



# دمســــــــــــــــــــينجرزده كړه


ځنګه كولاي شو په خپل مسينجر (Messenger) كي د چا ادرس يا ID علاوه كړو؟

د دي لپاره چي د چا ادرس په خپل مسينجر( Messenger ) كي علاوه كړو لاندي كړنلاري بايد سرته ورسو.

خپل مسينجر خلاص كړي او بيا په Contacts كليک كړي وروسته بيا په Add a contact كليک كړي.

اد دى ښكارندوي دي چي تاسو يو email بريښناليک يا لري چي نه مو ده لوستلي تراوسه . كه غواړي چي وي لولي نو وربانديي كليک كړي

اد دى ښكارندوي دي چي څوک اوس له تاسو سره په ژوندي بڼه په ليكه يا online ده.





اوس دلته د هغه چا ادرس يا ID چي تاسو غواړي علاوه كړي نوشته كړي اوبيا د next بټني باندي كليک او بيا په راتلونكي صفحي كي هم next او بيا په اخير كي د finish بټن كليک كړى يدى توګه به ستا سو په مسينجر كى هغه ادرس علاوه شى.


ځنګه کولای شو چې له چانه په انتر نت کې ځان پټ کړو تر څو مو مزاحم نه شي؟

لاندې کړنلارې باید ددې کار لپاره تر سره کړو.


ددی لپاره چې څوک مو په ژوندي بڼه یا online ونه وینې invisible to everyone غوره کړې.

کله چې تاسو مصروف یاست ددې لپاره چې څوک مو مزاحم نه شي busy غوره کړې.








که غواړې په خپله خوښه کوم متن اویا مطلب غوره کړې تر څو نورو ته هم وربښکاره شي new status message کلیک کړې. د نمونې په دول تاسوغوره کړې good morning دا مطلب په ښکاره شوې ځای کې ولیکې.




**ځنکه کولاي شو د تفريح لپاره له بل چا سره په کوم بل ملک کي تماس ونيسو اوخبري وکړو؟**
لاندي کړنلاري تر سره کړي.


خپل yahoo messenger خلاص کړي او د
messenger په مينو کليک کړي په خلاص
شوي لست کي yahoo! Chat غوره کړي او
بيا وروسته join a room غوره کړي.





له دي برخي څخه يو ملک غوره کړي
فرضا Asia غوره کړي. او بيا وروسته له
دي څخه په مخامخ لست کي يو غوره کړه
اوبيا په go to room کليک کړه له يوځه
خند وروسته په ښکاره شوي صفحي کي
enter chat کليک کړه



په اخيري مرحله کي
enter chat کليک کړه









اوس دلته په شين رنګ خط باندي کليک کړي

وروسته له پورتني مرحلي يوه ويندو يا صفحه خلاصيږي په هغې صفحه کي يو څو حروف تاسو ته ښکاري هماغه حروف په هغې صفحه کي چي کومه خانه خالي يا خالي ځاي دي وليکي او انتر(enter) يی کړي اوس چي هغې صفحې ته وګوريي کوم چي مخکي خلاصه شوي وه د هغې صفحي ښي طرف ته ټول کسان به تاسو ته ښکاره شي وروسته هر يوه سره چي غواړي خبري اتري وکړي په هماغه دوه واره کليک کړي او په ړا خلاصه شوي صفه کي خپل سلام او يا کوم بل پيغام ور ته وليکي او انتر(enter) يي کړي .


ښنکه کولاي شو د خپل مسینجر بنې او دلیک سایز ( font ) ته تغیر ورکړو؟
لاندي کړنلاري تر سره کړي.




له دي ځایه د مسینجر بنې ته تغیر وکړي
( change skin)
په appearance کلیک کړي.
اوس په change
fonts & colors کلیک
له دي ځایه د خط نوعیت
غوره کړی( font)
له دی ځایه د خط اندازه
غوره کړي(siz)
له دی ځایه د خط رنګ ته تغیر وکړي( font color)
د پورتنیو کړنلارو نه وروسته د OK بټن کلیک کړي.
Yahoo! Messenger Preferences
Category:
Appearance
Messenger interface style
Change Skin...
Default font and color for message windows
Change Fonts & Colors...
Message Text Style
Font:
Font style:
Size:
Sample
AaBbYyZz
Color
Basic colors:
Custom colors:
Define Custom Colors >>
OK
Cancel




کله چي مسینجر خلاصوي که مو remember my ID & password چک کړه نو هر وخت
چي تاسو کمپوټر چالان کړ ستاسو مسینجر به په اتومات ډول خلاصیږي بي له دي چي تاسو خپل
ادرس او پسورډ پکي ولیکي یعني په دي حالت کي ستاسو کمپوټر که کوم بل شخص هم چالان کړ
ستاسو له ID څخه کار اخیستلاي شي.دا پدي معني چي ستاسو ادرس او پسورډ پکي ساتل کیږي.





له دي لاري تاسو کولاي شي
کمره یا webcam وګوری.


له دي لاري) my display
image ( مسینجر ته خپل یو
عکس غوره کړي تر څو نورو
هغو کسانو ته چي له تاسو سره په
مسینجر کي شته وویني.


د sign out په کلیک
کولو تاسو له خپل
مسینجر څخه خارجیږي.
او یا په کیبورډ کي د
ctrl+D بټنو ته فشار
ورکړي

## Message Archive څه کار کړي.

کله چې مو له چا سره د مسینجر له لاري په ژوندي بڼه خبري کړي وي داسي وختونه پیښیږي چي تاسو خپل مسینجر بند کړي او یا د خبرو کولو وروسته مو صفحه تړلي وي خو ددي لپار چي که کومه ضروري خبر او کوم بل شي وي چي له یاده مو وتلي وي او غواړي دوباره هماغه وګوري نو ددي کار لپاره د مسینجر پر سر د **contacts** په مینو کلیک کړي او بیا وروسته په **message archive** کلیک کړي.






نوټ: دا خبري او پیغامونه تاسو ته هغه وخته دورباره لیدلي شي چي تر څو مو خپل مسینجر **sign out** کړي نه وي او فقط هماغه صفحه چي خپل پیغامونه مو چاته استولي وي د مسینجر له لاري بنده کړي وي اما که غواړي چي وروسته د مسینجر له **sign out** کیدلو بله ورځ هم همدا پیغامونه وګوري او ستا سو د

مسینجر په ارچیف کي وساتل شي ددي کار لپاره د مسینجر په سر باندي د مسینجر(messenger) په نوم
مینو باندي کلیک کړي او له را خلاص شوي لست نه په **preference** کلیک کړي .




په **messenger** کلیک کړي

اوس په **preferences** کلیک کړي




ددي لپاره چې ستاسو
پیغامونه د مسینجر په
ارچیف کي وساتل شي
ددي کار لپاره اولني اختیار
غوره کړي ددي کار په
کولو سره به ستاسو ټول
پیغامونه د مسینجر له
بندولو ورسته هم کله چې
وغواړي ویې ګوري
کولای شي ویې ګوري اما
که مو دا اختیار غوره نه
کړ د مسینجر له بندولو
وروسته تاسو بله ورځ او
یا کوم بل وخت هغه نشي
لیدلای خپل پیغامونه

په اخیر کي **ok** کلیک کړي